




سمیع الدین « افغاني »

د نشرنیټه : « 2 نوامبر 2026 میلادي »

سپرلی سپرلی وطن



ترتیب کوونکی: برهان الدین « سعیدی »

د سمیع الدین افغاني دریمه شعري ټولګه
« داغلي زړونه »

موسم د سرو ګلونو نو بهار مې را په زړه شي
شیبې خواږه وختونه د د لدار مې را په زړه شي
شعلې چې بې د حسن او ښکلا هر لور خپرې وی
هغه ښکلې ساقي اوسپین رخسار مې راپه زړه شي
پرون چې وه پردیس نن ها خیالونه مې کوربه دي
ښایسته ښایسته باغونه ننګرهارمې را په زړه شي
په مینه او اخلاص چې د هر لوري ورته درومي
جنده د سخي جان ښکلی مزار مې را په زړه شي
قندهار کلي باندې او د میلو په جم او جوش کې
باغونه د انګورو ، سره انار مې را په زړه شي
غزنې کې هم پراته دي رسیدلي زیارتونه
د خوږ وطن تاریخ او افتخار مې را په زړه شي
پامیر په جګه غاړه د اسیا یوهسک غروردی
سپین غر لمنې سرې شي لاله زار مې را په زړه شي
علما هم د وطن زموږ د پوهې پسرلي دی
هرات کې عالم پوه خواجه انصارمې را په زړه شي
بادغیس په وچو دښتو او د للمو په تپو کې
هغه لوی لوی ځنګلونه پسته زار مې راپه زړه شي
باندې ها کلا ګاني په دره د الیشنګ کې
تګاب ، نجراب راواخله ګلبهار مې را په زړه شي
لغمان مو هم ډیر ښکلی طبیعت شي په سپرلي کې
ښایسته عمر زائي او الینګار مې را په زړه شي
سمیع الدین « افغاني »

www.said-afghani.org ــ بازگشت به صفحه اصلی

«محتوای این مضمون بیانگر نظر نویسندۀ آن است و ارگان نشراتی مولانا سعید افغانی مسئولیتی در قبال آن ندارد.»